# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

| | |
|---|---|
| شمېره: | ۳۰- ۱۳۹۳ |
| موضوع: | د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیې ورکونې ټولو محلونو د رأیو عمومي ( سل په سله) تفتیش له پاره معیارونه؛ |
| ځانګه: | د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء |
| د غونډې نېټه او ځای: | د ۱۳۹۳ کال د چنګاښ ۲۴مه، (د ۲۰۱۴ کال د جولای۱۵ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضر غړي: | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اخکزی، ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردک. |

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې د حکمونو پر اساس او د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور ټاکنو د نوماندانو او ملګرو ملتونو د تخنیکي پرېکړې په چوکاټ کې پرېکړه وکړه چې:

د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیې ورکونې د ټولو محلونو د رأیو عمومي ( سل په سله) تفتیش د کمیسیون د مصوب چک لیستې د یوولسو معیارونو او د ملګرو ملتونو د ۵ وړاندېز شویو معیارونو پر بنسټ چې په لاندې توګه دي، ترسره کېږي:

**۱.د کمیسیون د مصوب چک لیستې یوولس معیارونه:**

1. آیا د رأیې پاڼو صندوقونه هغه ډول دي چې د کمیسیون له خوا د اوسنیو ټاکنو له پاره وېشل شوي وو؟ هو / نه /
2. آیا د رأیې پاڼو صندوقونه سالم او روغ دي؟ هو / نه/ . که ځواب نه وي، په اړه یې وضاحت ورکړئ!
3. آیا د رأیې پاڼو پر صندوقونو داسې سټیکر لګول شوي چې په هغه کې د رأیې ورکونې د مرکز او محل کوډ درج شوی وي؟ هو/ نه.
4. آیا د صندوق سرپوښ څو مهراو لاکونه لري، او څومره یې سالم او روغ دی؟ ( ) مهراولاکونه لري او ( ) یې روغ دي.
5. آیا د صندوقونو مهر او لاکونه د لاس په فشار سره د خلاصیدو وړ دي؟ هو/ نه
6. آیا د مهراو لاکونو شمېرې، په صندوقونو کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له پرله پسې شمېرې سره مطابقت لري؟ هو / نه
7. آیا په صندوق کې د پایلو فورمې کاپي شته؟ هو/نه
8. آیا د رأیې پاڼو په صندوقونو کې ناکارول شوې، ضایع شوې او باطلې شوې رأیې پاڼې شته؟ که ځواب هو وي، په څه شمېر سره؟ په ټولیزه توګه ( ) ناکارول شوې، ( )ضایع شوې او ( ) باطلې شوې رأیې پاڼې شته دي.
9. آیا د رأیې پاڼو په صندوق کې داسې نښه شوې رأیې پاڼې شته چې له کندې څخه نه وي بېلې شوې؟ هو/ نه. که ځواب هو وي، په څومره شمېر سره او د کوم نوماند په ګټه نښه شوي دي؟ **الف.** په ټولیزه توګه ( ) رأیې پاڼې د

ښاغلي (    ) او ب. په ټولیزه توګه (    ) رأیې پاڼې د ښاغلي (    ) په ګټه نبنه شوي دي.

10. آيا هغه رأيې پاڼې چې د يو نوماند په ګټه کارول شوي، شاته یې تأییدي مهر لري؟ هو/ نه. که چېرې ځواب نه وي، څومره رأيې پاڼې تأییدي مهر نه لري او د کوم نوماند په ګټه کارول شوي دي؟ **الف.** په ټولیزه توګه (   ) رأیې پاڼې د ښاغلي (   ) په ګټه **ب.** په ټولیزه توګه (   ) رأیې پاڼې د ښاغلي (   ) په ګټه کارول شوي دي.

11. آيا رأيې پاڼې د طرزالعمل مطابق نبنه شوي دي؟ هو/ نه. که ځواب نه وي. په څه شمېر سره رأيې پاڼې او د کوم نوماند په ګټه. **الف.** په ټولیزه توګه (   ) رأیې پاڼې د ښاغلي (   ) په ګټه. **ب.** په ټولیزه توګه (   ) رأیې پاڼې د ښاغلي (   ) په ګټه کارول شوي دي.

**۲ . د ملګرو ملتونو سازمان له خوا پنځه وړاندېز شوي معیارونه:**

1. آيا د رأيې پاڼو نبنې سره ورته والي لري او په عین ډول نبنه شوي دي؟ که ځواب هو وي، په څه شمېر سره؟

2. آيا د پايلو په فورمو، درج شويو رأيو او د رأيې پاڼو په صندوق کې د لاسوهنې شواهد شته؟ که ځواب هو وي؟ په څه شمېر سره؟

3. آيا د پايلو فورمې کاپي د پايلو له هغې فورمې سره چې د پايلو په ملي مرکز کې پروسس شوې ده، مطابقت او ورته والی لري؟

4. د رأيې ورکونې د اړوند محل د معلوماتو ژورنال او د هغو رأيې ورکوونکيو لیست چې په دغه محل کې یې رأيې ورکړي دي، څنګه دی؟

5. آيا په رأيې پاڼو صندوقونو کې داسې پایلې شته چې د تر ټولو ښو بین المللي طریقو پر اساس څېړنې ته اړتیا ولري ( لکه، هغه مهال چې د لومړي او دویم دور ټاکنو کې د رأيو ټولګه عمده توپیر ولري)؟ که ځواب هو وي، هغه مهال د رأيې پاڼو صندوقونو ته ملي او بین المللي څارونکي او د نوماندانو استازي څانګړې پاملرنه کوي.

| د پرېکړې موافق | د غړيو نومونه | د پرېکړې مخالف |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتی وردک | |